# د قدرمن مشر اسفندیار ولي خان پیغام



زما د پرهر پرهر ولې ژوندي ژوندي وطن خلقو مشـرانـو، کشـرانو،میاندو او خویندو او ګلالو ماشومانو بـچـو. هسې خـو د فـخر افغان باچاخان او رهبر تحریک خـان عبـدالـولـي خـان ژونـد او د ژونـد یادونه نه یوازې زمـونږ د زړونو په تختو لیک دي بلکې د وطن د پښتنو نـه علاوه د ننني دنیا ټول انسانان د دغو دواړو رهبرانو د ګـفتار او کردار په تصویرونو پسې په لټون سر دي. او د دوي د کار او زیار نه د نوي ژوند دپاره رڼاګانې اخلي.

خـو کله چې مونږ د دغو دواړو سترو رهبرانو د یـاد ورځ نـمـانځو نو د غم او خوشحالۍ په یو شریک او حېران کیفیت کښې د دغو مخونو آئینو ته اودرېږو. غم دا وي چې زمـونږ قـامـي، اولسـي،مـلکي،علاقـائي او جهـانـي غـمـونـه داسې حد تـه رسېدلي دي چې د پوره انسـانـیـت شـعـوري او انساني خلوص ئې مفلوج کړے دے. پـه دغسې حالاتو کښې هسې نه چې خدائې مه کړه مـونږ د دغـو خـلـقـو د روحونو نه د رڼا اخستو نظر هم د لاسـه ورنـکړو. د خـوشـحالۍ کیفیت دا وي چې د دغو رهبـرانـو ژونـد ژواک کار او عمل چې مونږ ته کوم ویاړ رابـخښـلـے دے. هغه د هغوي بې داغه کردارونه دي. چې دا بـه انشاء الله تر ابده نه یوازې زمونږ د سر سورے وي بـلـکې مونږ به ترې راهنمائي هم اخلو. حیراني مو دا ده چې کـومو خلقو په یوه پیړۍ خور ور جدوجهد په کومه خـاوره د امـن دپـاره وکړه هم هغه خاوره د بین الاقوامي رقابتونو د لاسه په وینو سره شوه.

پـه هـر حـال مـونږ تـل د خپـلـو دغو راهنمایانو روحـونه د خپل هر مشکل په وخت د خپلو خلقو او خپلې ټـولنې دپاره رابللي دي. او راهنمائي مو ترې اخستې ده.

مـونږ هـر کـال هـم په دې ورځ د خپلو دغو راهنمایانو سره سره د هغوي د غېرتي ملګرو خدائي خدمتګارو د روحونو نـه هـم نـه یوازې راهنمائي اخلو بلکې لوظونه هم ورسره تـازه کـوو. او وایـو چې مـونږ بـه هم د دوي د مشالونو په چـراغان کښې په خپـل وطن،قام،خاوره او اولسونو د ژوند او خـوشحالۍ سپرلي راولو او خپل اولسونه به د ترقۍ او خوشحال معراج ته رسوؤ. د خوشحالۍ خبره دا ده چې نن نـه یوازې پښتانه د یو مکمل اجتماعي شعور سره زمونږ د مشـرانـو د کـار او عـمـل د جاج اخستو په هڅه او لټون کښې دي بـلـکې دنیا او د دنیا خلق د باچاخان کار او عمل ته او د ولي خان جمهوریت پسندۍ او اصول پسندۍ ته د نـوي نـظـر نه ګوري جاج ئې اخلي. ځینې وطني او ځینې جهاني ځوانان اوس په دغو افکارو پي.ایچ.ډي کوي.

د دې ژونـدون د ګلزارونو د سپرلو په امید
هېر لاړو راغلو خو په څانګه ستا د خیال کیناستو

اندېش